

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۴۲ | مسلسل نمبر: ۱۳۲ | پنجشنبه، شعبان المعظم ۱۰مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال

## ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۲،۵ ميلیارده افغانيو په ارزښت ۲۱ پروژې منظورې کړې



۲ صفحه

## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه جوړه شوه



۲مه صفحه

## معادن و استخراج قانونی آن



۴مه صفحه



## سرليکنه

د روان کال د سلواغې مياشتې له ۲۰مې نېټې وروسته به د هېواد په ټولو ګمرکونو کې پاکستاني درملو واردات په بشپړ ډول ودرول شي. له پاکستان څخه د درملو واردوونکو ته خبرداری ورکړل شوی چې تر يادې نېټې پورې دې د پاکستاني درملو د وارداتو اړوند سندونه تصفيه کړي. دا ګام وروسته له هغه پورته کيږي چې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ۱۴۰۴ کال د لړم په ۲۱مه په کابل کې د يوې ناستې په ترڅ کې د افغانستان له سوداګرو او صنعتکارانو څخه وغوښتل چې ژر تر ژره دې د پاکستان پرځای د بديلو تجارتي لارو د پيدا کولو له پاره اقدام وکړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له پاکستان څخه د درملو واردکوونکو ته درې مياشتې وخت ورکړ او ترې ويې غوښتل چې په پاکستان کې دې د درملو په برخه کې د خپلو قراردادونو حسابونه تصفيه کړي او نور دې له دغه هېواد څخه درمل نه واردوي. اوس دا دی درې مياشتې مخ په پوره کېدو او له دې وروسته به پاکستاني درمل نه ګمرک کېږي او واردات به يې بندوي. اوسمهال افغانستان په يوه يا دوو هېوادونو متکي نه دی، چې که هغوی وغواړي خپلې سوداګريزې لارې وتړي، نو افغانستان به له قحطۍ او د توکو له کمښت سره مخ او سوداګري به يې ودرېږي او له اقتصادي فشار سره به مخ شي. دا يوه تېروتنه ده. افغانستان دا مهال د ګاونډيو هېوادونو په ګډون د سيمې له بېلا بېلو هېوادونو سره پراخې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې او هم د خپلې سوداګرۍ له پاره بديلې لارې لري. اوسمهال افغانستان له همدې بديلو لارو نه يوازې د نورو توکو واردات کوي، بلکې په لوړ کيفيت درمل هم واردوي. له هغه مهاله چې له پاکستان سره سوداګريزې لارې تړل شوې دي، په هېواد کې د درملو په برخه کې چندان کمښت نه احساسيږي. که څېرې موږ د اوس په شان د پاکستان پر ځای له نورو هېوادونو څخه درمل وارد کړو، له يوه لوري به موږ باکيفيته درملو ته لاسرسی موندلی وي، له بل لوري به په خپل هېواد کې د درملو صنعت پرمختګ وکړي. له دې ور هاخوا تر ټولو زياته ګټه به دا وي چې د باکيفيته درملو په ترلاسه کولو سره به د روغتيا سکټور ډاډمن او وده وکړي. همدا اوس چې په افغانستان کې د درملو کومې فابريکې فعالې دي، هڅه يې داده چې د کيفيت ترڅنګ د درملو په کميت کې هم زياتوالی راولي. د روغتيا برخې اړوندو ادارو د معلوماتو له مخې همدا اوس په افغانستان کې له ۶۰۰ قلمه زيات درمل توليديږي. دا د درملو په برخه کې د هېواد د ځان بسياينې په برخه کې يو ښه پرمختګ کيدای شي. له پاکستان څخه د درملو پر وارداتو د بنديز يوه بله ګټه داده چې د درملو په برخه کې د فعالو فابريکو د فعاليت د زياتېدو ترڅنګ به په دې برخه کې نوې پانګونه هم جلب او جذب شي. په دې سره به دغه برخه پرمختګ وکړي، ډېری هېوادوالو ته به د کار زمينه برابره او په ټوله کې به ملي اقتصاد وغوړيږي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی



# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۲,۵ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۱ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په اوومه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته ۳۳ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د شاوخوا ۲,۵ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۱ پروژې منظورې شوې او په ۷ پروژو کې بیا یولړ تعدیلونه راغلل. همداراز یوه پروژه بیاځلي پرانیستې ملي داوطلبۍ او بله پروژه د ګټونکې شرکت د مخکنیو کاري نیمګړتیاوو له امله معطل شوه. د دغه شرکت د ټولو موجودو قراردادونو د هراړخیزې څېړنې لپاره کمېټه وټاکل شوه، څو له څېړنې وروسته خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. همدارنګه یوه پروژه بېرته اړوند وزارت ته د تدارکاتي ستونزو له امله اعاده او د دوو پروژو د قیمتونو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو په دې اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل، هرات، ننګرهار، بلخ او خوست ولایتونو د هوایي ډګرونو د ګمرکونو لپاره د سکنرونو اخیستل، له ګردیز څخه تر خوست پورې د عمومي سړک ترمیم، د غزني او فراه ولایتونو لپاره د امنیه قوماندانیو د ودانیو جوړول، د سرپل ولایت د سلطان ابراهیم بند د اوبو لګولو د تفصیلي ډیزاین او امکان سنجۍ مطالعات، د سرپل ولایت د سانچارک، سوزما قلعه او ګوسفندي ولسوالیو ته د برېښنا رسونې، د کندوز ولایت په قلعه ذال، د هلمند ولایت په ګرشک، د پروان ولایت په شینوارو، د فراه ولایت په پرچمن، د خوست ولایت په لکن، د تخار ولایت په ورسج، د کاپیسا ولایت په آله سای، د کابل ولایت په شکردره او د بدخشان ولایت په درایم ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو جوړول او همدارنګه په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع یوشمېر پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لورې تمویلېږي.



# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه جوړه شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته په هغو سکټورونو کې چې پانګونه پکې نه وي شوې، نویو پانګوالو او صنعت‌کارانو ته د مالیاتي معافیت موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته د اړوندو ادارو له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو په دې اړه جوړ شوی سند د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره تکمیل او په لنډ وخت کې خپل راپور د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي. همدارنګه په هېواد کې د اوبو رسونې شبکو د حفظ او مراقبت او د څښاک پاکو اوبو د ژورو غیرفعالو څاګانو د بېرته فعالولو پر طرحه له بحث وروسته د اوبو او انرژۍ وزارت مسوولینو ته دنده وسپارل شوه، چې د یادې طرحې له وړاندې کوونکي شرکت سره تخنیکي بحثونه ترسره او راپور یې په ټاکلې نېټه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي. همداراز د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د سوداګریز مارکېټ د جوړولو پر طرحه هم له بحث وروسته د کابل ښاروالۍ مسوولینو ته دنده وسپارل شوه، څو د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د موجودې ځمکې پرځای د طرحې وړاندې کوونکي شرکت ته بدیله ځمکه په نښه او خپل راپور دې کمېټې ته په ټاکلي وخت وړاندې کړي.



ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباديي

# اخبار اقتصادی هفته

## دوبۍ کې د افغانستان د بانکي اړیکو د پیاوړتیا په موخه کنفرانس جوړ شو

د افغان-امریکایي سوداګرۍ خونې او نورو همکارو بنسټونو په ملاتړ متحده عربي اماراتو کې د بانکي اړیکو د متقابلې همکارۍ په اړه یو ورځنی نړۍوال کنفرانس جوړ شو. دغه کنفرانس کې لسګونو نړۍوالو بانکونو، د نړۍوالې ټولنې استازو، افغان سوداګرو او پانګوالو ګډون کړی و چې د افغانستان د بانکونو او بهرنیو شریکانو ترمنځ د خبرو اترو د رامنځته کولو، د بانکي همکاریو د پراختیا او د مالي او سوداګریزو لېږدونو د اسانتیا په اړه پکې بحث شوی دی. ګډونوالو دغه راز د بانکوالۍ اړیکو، ناکافي ډیجیټل مالي خدماتو او مالي سرچینو ته د محدود لاسرسي په اړه خبرې کړې دي. د افغانستان د بانکونو د ټولنې اجراییوي رییس، نجیب الله امیري و ویل: «ګډونوالو د افغانستان د بانکي سکټور د وروستیو پرمختګونو هرکلی وکړ او په ښکاره ټینګار وشو چې د افغانستان بانکي سکټور تر بندیزونو لاندې نه دی. دغه راز څرګنده شوه چې د افغانستان بانکونه له نړۍوال سوداګریز بازار سره په کلني دول سلګونه میلیونه ډالره منظم انتقالات لري.» متحده عربي اماراتو کې د افغان سوداګرو د شورا رییس حاجي عبیدالله صدرخیل و ویل چې ۸۵ سلنه افغان سوداګر په متحده عربي اماراتو کې ژوند کوي او له همدې امله دغه کنفرانس د بانکوالۍ سکټور لپاره هم دی. یو شمیر نورو افغان سوداګرو هم له بهرنیو پانګه‌والو وغوښتل چې په افغانستان کې د پانګونې له فرصت څخه ګټه پورته کړي. په متحده عربي اماراتو کې د افغان سوداګرو شورا رییس، حاجي عبیدالله صدرخیل و ویل: «دا غونډه ډېره مهمه ده، د دې پروګرام په تنظیمولو کې له یو کال څخه زیات وخت تېر شوی دی. موږ پلان درلود چې دا کنفرانس مخکې جوړ کړو، خو ځنډول شو او له نېکه مرغه ترسره شو. دا غونډه زموږ د بانکوالۍ سکټور لپاره ځانګړې اهمیت لري، ځکه چې زموږ د لویې سوداګریزې ټولنې ۸۵ سلنه له تېرو ۳۵ کلونو راهیسې په دوبۍ کې ژوند کوي.» په استانبول کې د افغان سوداګرو د ټولنې رییس، احسان الله کامه وال و ویل: «نن ورځ افغانستان کې د پانګونې ډېره ښه فرصت دی او له ټولو غواړو چې په افغانستان کې پانګونه وکړئ.» د افغان بانکونو د ټولنې په خبره، دغې ټولنې له نړۍوالو بانکونو او نړۍوالې ټولنې څخه وغوښتل چې د متقابلو بانکي اړیکو په پیاوړتیا او بیارغولو سره د افغانستان د بانکوالۍ سکټور د ثبات او پراختیا ملاتړ وکړي.

## چابهار؛ د افغانستان حیاتي لاره او د هند مبهمه پانګونه

فارن پالیسي خپرونې په یو نوي راپور کې پر هغو هېوادونو چې له ایران سره اقتصادي همکاري کوي د ډونالډ ټرمپ حکومت د ۲۵ سلنه تعرفې په تړاو لیکلي چې دې اقدام په چابهار بندر کې د هند پانګونې راتلونکی له ابهام سره مخ کړی دی. دا پروژه، چې د ایران، افغانستان او هند ترمنځ د همکارۍ پایله ده، نوي ډیلي د ۲۰۱۶ کال د درې اړخیز تړون پر بنسټ، د چابهار بندر او اړوندو زیربناوو په پراختیا کې له هغې دلې د سړکونو، او اوسپنې پټلۍ برخو کې نږدې ۵۰۰ میلیونه ډالره پانګونه کړې وه. اوس دا د کمولو یا وتلو له خطر سره مخ ده. د اقتصادي چارو شنونکی، سیر قریشي په دې اړه وایي: « د افغانستان لپاره دا ستونزه نړۍوالو بازارونو ته لاسرسي لا ستونزمن او لګښتونه زیاتوي او په ټوله کې ویلای شو چې سیاسي فشارونه به د پانګونې د کمېدو او د سیمې د سوداګرۍ د کمزورۍ کېدو لامل شي.» فارن پالیسي ټینګار کړی چې چابهار د هند لپاره ستراتیژیک اهمیت لري، ځکه چې دا د نوي ډیلي لپاره افغانستان او منځنۍ آسیا ته د لاسرسي یوازینۍ عملي لاره ده. خپرونه دا هم لیکي چې افغانستان د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې نسبي ثبات څخه خوند اخیستی او له هند سره یې اړیکې د پراختیا په حال کې دي؛ هغه موضوع چې د هند په سیمه ییزه ستراتیژۍ کې د چابهار اهمیت روښانه کوي. د اقتصادي چارو شنونکی، عبدالظهور مدبر هم وایي: « د امریکا متحده ایالاتو وروستي بندیزونه پر هغو هېوادونو چې د چابهار له لارې سوداګري کوي، کېدای شي یو ډېر قهري او ګواښونکی اقدام وي او آن د اخلاقي عرف خلاف هم بلل کېږي؛ له همدې امله هر هغه هېواد چې له دې لارې راکړه ورکړه لري، بنایي له منفي اغېزو سره مخ شي.» په ورته مهال، اقتصاد وزارت هم ویلي چې د چابهار بندر د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي او د امریکا له حکومت څخه یې غوښتنه کړې چې دا بندر د سیمه ییزو جیوپولیټیک فشارونو او سیالیو څخه لرې وساتي ترڅو د هېواد سوداګري او اقتصادي وده ګډه وډه نشي. د اقتصاد وزارت مسلکي مرستیال، عبداللطیف نظري بیا وایي: « د چابهار بندر د سیمې د اقتصادي همکاریو د نښلولو کړۍ ده او د سیمې د اقتصاد د دوامدارې ودې او پراختیا په برخه کې مهم رول لري؛ له همدې امله موږ له امریکا او له دې هېواد سره همغږو هېوادونو غواړو چې د چابهار بندر د جیوپولیټیک سیالیو او بندیزونو څخه لرې وساتي.»دا په داسې حال کې ده چې متحده ایالاتو تر دې وړاندې د چابهار بندر په برخه کې د هند لپاره د شپږو میاشتو بندیزونو معافیت صادر کړی وو، خو اوس د هغو هېوادونو په اړه د ټرمپ نوې څرګندونې چې له ایران سره سوداګري کوي، په دې بندر کې د هند د پانګونې راتلونکی او د پروژې لپاره ژمنې یې ننګولې دي.



# آغاز شمارش معکوس برای توقف واردات دارو از پاکستان

وزارت مالیه‌ی امارت‌اسلامی اعلام کرده که بر پایه‌ی هدایت معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزرا، از ۲۰ دلو سال جاری واردات همه‌ی داروهای پاکستانی در تمام گمرک‌های کشور متوقف خواهد شد. این وزارت پافشاری کرده که واردکننده‌های داروهای پاکستانی تا ۲۱ ماه شعبان فرصت دارند تا تمامی دادوستَدها و سندهای مربوط به واردات خود را کامل تصفیه کنند. وزارت مالیه، در این باره افزود: «وزارت مالیه به کمال احترام یکبار دیگر به تمام تاجران واردکننده‌ی دارو از کشور پاکستان اطلاع می‌دهد که تا ۱۹ روز آینده تمام معاملات و اسناد مربوطه‌ی خود را به گونه‌ی کامل تصفیه کنند و پس ۲۱ ماه شعبان سال جاری در تمام گمرک‌های کشور ادویه محصول نخواهد شد.» در همین حال، برخی شهروندان می‌گویند که کیفیت داروهای



پاکستان مناسب نیست و بهتر است که توجه بیش‌تری به تولید داخلی دارو شود. به‌گفته‌ی آنان، نیاز است کیفیت دارو بهتر و نرخ آن ارزان‌تر باشد تا مردم توان خرید آن را داشته باشند. عبدالقادر، باشنده‌ی کابل، در این باره گفت: «دارویی که از کشور پاکستان وارد می‌شد در سال‌های گذشته حتا باعث مرض ها می‌شد، و این که ممنوع شده یک اقدام خوب است و ما ستایش می‌کنیم.» حمیدالله، یکی دیگری از باشنده‌های کابل، در این باره افزود: «دارویی که در افغانستان تولید می‌شود باید کیفیت آن خوب باشد، و تاجران باید تشویق شوند که در بخش دوا سرمایه گذاری کنند تا ما از محتاج بودن به کشورهای دیگر خلاص شویم.» وزارت صحت‌عامه‌ی کشور از اکمال بازار دارویی کشور به‌ویژه از راه رشد تولید داخلی اطمینان می‌دهد. سخن‌گوی وزارت صحت عامه، در این باره پافشاری کرد: «الحمدالله در ماه‌های اخیر در این بخش کارهای زیادی انجام شده و هدف ما هم همین بود که بتوانیم او مارکیت‌ها که دارویی پاکستان را وارد می‌کردند جلو آن را بیگیریم و در کنار آن نیاز ما از دیگر کشور ها تامین شود.» این در حالی‌ست که پس از بسته‌شدن گذرگاه‌های تجاری به‌دلیل درگیری‌ها از سوی پاکستان، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا، از تاجران افغان خواسته تا راه‌های جای‌گزین برای واردات از کشورهای دیگر را جستجو کنند و تمامی قراردادهای خود به‌ویژه در بخش دارو با پاکستان را پایان دهند.



# معادن
## و استخراج قانونی آن

فضل ولي شيراني

### مقدمه

اقتصاد قوی و مستقل یک کشور را از هر لحاظ تقویت میبخشد. در جهان بسیار اندک کشوری وجود دارد که به اندازه افغانستان آب، جنگل، صحراهای وسیع و ضمن همه این‌ها دارای منابع طبیعی زیرزمینی باشد. منابع طبیعی افغانستان به اندازه‌ی است که می‌تواند این فقیرترین کشور جهان را به یک کشور ثروتمند تبدیل کند؛ اما، در جریان چهار دهه گذشته، بی ثباتی سیاسی، اشغال، نبود یک چارچوب قانونی و پالیسی های واضح در سکتور معادن، فساد اداری، سوء مدیریت پروژه ها، فقدان دولت های مستقل، فقدان زیربناهای اساسی و اتکاء کلی به کمک های خارجی مانع انکشاف سکتور معدن در کشور شده بود. اما اکنون که امنیت در سراسر کشور مستحکم است، فساد وجود ندارد و پروژه ها به صورت منظم مدیریت می شوند، به استخراج قانونی و منظم معادن توجه شده است. اخیراً وزارت معادن و پترولیم اعلام کرد که از این به بعد استخراج معادن بدون مجوز غیرقانونی و جرم پنداشته می شود و از برخورد قانونی با متخلفان هشدار داده است. این وزارت گفته است که از این به بعد طی شش ماه آینده تمامی معادن استخراج شده غیرقانونی را ثبت و جواز

صـــادرات و انتقال آن را بر اســـاس رویالیتی شرکت‌ها در ولایـــات مربوطه صادر خواهد کرد. وزارت معادن هشـــدار داده است که اگر کدام شرکت در این مدت مواد استخراج شده غیرقانونی را ثبت نکند، در آنصورت ثبت و انتقال مجاز نخواهد بود. با روی کار آمدن امارت اســـلامی، مسؤلین به اقتصـــاد مبتنی بر معادن روی آورده و قصد دارند تا از منابع طبیعی افغانستان به صورت قانونی، تخنیکی و مسلکی بهره برداری کنند و از عواید آن برای تقویت و بازســـازی اقتصاد افغانستان اســـتفاده نماید. در اینجا به صورت مختصر به معادن افغانستان و استخراج قانونی آن اشاره خواهیم کرد.

## معادن افغانستان و استخراج قانونی آن

منابع طبیعی و معادن این کشور فراوان و متنوع است که ارزش فیزیکـــی آن به تریلیون ها دالر میرســـد، اما ارقام رســـمی ارزش این معادن ۱-۳ تریلیون دالر اســـت. البته ارقام تخمینی است و ممکن است کم و بیش باشد، اما از نظر تنوع ۱۴۰۰ نوع معدن در افغانســـتان شناسایی شده اســـت، تمایزی که بسیار اندک کشـــورهای جهان دارند. این منابع غنی اســـتراتیژیک ترین وسیله برای خودکفایی کامل، اســـتقلال، قدرت، توسعه، مشـــارکت منطقوی و ثبات ملی ما محسوب می‌شوند. بعضی از این مواد معدنی در اینجا به عنوان مثال درج شده اند که شامل آهن، طلا، مـــس، نفت، گاز طبیعی، زغال ســـنگ، فلـــزات مفیده، فلزات مفید غیر فلزی، منگنیز، کرومیت، سرب، جســـت، المونیم، مولبدن، ولفرام، قلعي، بیســـموت، ارســـینیک، سُرمه، ســـیماب ، عناصر نادر، بریلیوم، لیتیم، ســـیزیوم، روبیدیم، تانتالیـــم، نیوبی،کادمیـــوم، اورانیوم، توریوم، فلـــزات نجیبـــه ، ســـلفر، فلوریـــت، باریت، سلســـتین، فاســـفوریت، اپاتیت ، ســـنگ ریشـــیی، ابـــرک، تالک، مگنیزیت، گرافیت، گچ، نمک غذایی، سنگ های قیمتی مانند یاقوت، زمرد، لاجورد، کونسایت، کلسایت، نفرایت، کرومایت، سرپینتین، اشپات، مواد ساختمانی و بعضی از مواد با ارزش دیگر و سنگ های قیمتي و غیر قیمتی اند. طوریکه اشـــاره نمودیم، این‌ها بعضی از مواد معدنی اند که نســـبتاً مورد بهره برداری قرار گرفته اند. با وجود چنین منابع طبیعی و معادن سرشـــار در کشور، افغانستان هنوز هم از نظر اقتصادی ضعیف است.

اما با به قدرت رســـیدن امارت اســـلامی استخراج معادن آغاز شـــد و این سرمایه ملی اکنون از ســـوی حکومت به قرارداد داده شده و اســـتخراج آن جریان دارد. عواید آن برای بازســـازی کشور به مصرف می رسد. به تازگی وزارت معادن و پترولیم گفته اســـت که از این به بعد اســـتخراج معادن بدون مجوز، غیرقانونی و جرم پنداشته می‌شود و از برخورد قانونی با متخلفان هشـــدار داده اســـت. این نکته بسیار مهم است، زیرا اگر کسی در زمینه استخراج معادن اقدام کند و اســـناد قانونی نداشـــته باشد، مجرم محسوب می شود. در زمان اداره قبلی کابل و قبل از آن، معادن در دست زورمندان بود. هر کدام ساحه خود را داشت و مواد معدنی را استخراج و می‌فروخت که سود آن به جیب های شخصی میرفت. اما حالا این طور نیست. امارت اسلامی مجوز و اســـتخراج معادن را به صـــورت قانونی و معیاری صادر می‌کند و به هیچ‌کس اجازه اســـتخراج غیرقانونی یا حتی غیرمعیاری معادن را نداده اســـت. اگر ما از معادن و منابع طبیعی خود به صورت درست و قانونی استفاده کنیم، شکی نیســـت که افغانستان به برکت این ثروت، روزی به صف کشورهای پیشرفته و از نظر اقتصادی خودکفا جهان خواهد پیوســـت. در اینجـــا روی تاثیری معـــادن و منابع طبیعی بالای رشـــد و توسعه اقتصادی مورد بحث قرار می دهیم.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه اباډي
هفته‌نامـه آبـادی

## استخراج معادن و تأثیر آن بر رشد اقتصادی

مـــواد معدنی منابع طبیعی اند کـــه ارزش اقتصادی بالایی دارند و اســـتخراج آن باعث افزایش سطح عواید می شود. همین که عواید افزایش یافت ، طبیعی اســـت که اقتصاد رشد خواهد کرد و مشکلات اقتصادی در کشور پایان خواهد یافـــت. در مجموع دو ســـوم خاک افغانســـتان را کوه ها پوشـــیده است و متباقی آن را بیابان های هموار، ریگستان ها، و تپه ها احتوا کرده اســـت. هر قسمت از این سرزمین بنابر ویژگی‌ها و قابلیت‌های جیولوجیکی خود، منابع طبیعی را تولید کرده اســـت و گنجینه ای از گنجینه‌ها را به عنوان هدیه به ســـاکنان خود نگهداری کرده است، اما شرط این است که این هدیه به کســـانی داده شود که توانایی آن را دارنـــد. اغلب این معادن به مقیاس بـــزرگ و بعضی ها به سطح معدن محاسبه و ارزیابی شده اند که ارزش اقتصادی آن نیز چشمگیر پنداشته شده است.

در گذشـــته به این ثروت وســـیع زیرزمینی کـــه می تواند افغانستان را در ردیف کشـــورهای پیشرفته و ثروتمند قرار دهد، توجه کمی صورت میگرفت. دلایل آن ممکن اســـت تجاوزات خارجی به کشـــور، سوء مدیریت نظام‌های موجود در کشور، فساد اداری، مشکلات امنیتی و امثال آن باشد؛ علاوه بر تمامی اینها مهمترین چیز تعهد و عزم قوی است. اگر تعهـــد و قاطعیـــت در حکومت های قبلـــی وجود می داشـــت، می توانســـت به نصف این عوامل یاد شده نقطه پایان گذاشته و از این ثروت کشـــور برای توسعه اقتصاد کشور اســـتفاده می‌نمود که چنین نشد. اما امارت اسلامی عـــزم قوی و توانایی این را دارد تا از این ثروت زیرزمینی به صورت قانونی و معیاری بهره برداری کند و از عواید آن برای بازسازی اقتصاد استفاده نماید. تا به امروز، اکثر معادن، به شـــمول تعداد زیادی از معادن در مقیاس بزرگ، در سراسر کشـــور قرارداد شده و از این درک میلیون ها افغانی عواید به خزانه حکومت سرازیر می شـــود. سکتورهای اقتصادی افغانســـتان از برکت این عواید روز به روز در حال توســـعه است و کشـــور گام هایی را در جهت خودکفایی اقتصادی برمیدارد.

## نتیجه گیری

افغانســـتان دارای معادن و منابع طبیعی زیادی اســـت. میزان منابع طبیعی در افغانستان به گونه‌ای است که می تواند این فقیرترین کشـــور جهان را به یک کشور ثروتمند و مرفه تبدیل کند و در جمع کشورهای پیشرفته جهان قرار دهد. امارت اسلامی به اقتصاد مبتنی بر استخراج معادن روی آورده و قصد دارد از منابع طبیعی افغانستان به صورت قانونی، تخنیکی و مســـلکی بهره برداری کند و از عوایـــد آن برای تقویت و بازســـازی اقتصاد افغانســـتان اســـتفاده نماید. به همین دلیل اســـت که امارت اسلامی تمام معادن را به صورت قانونی اکتشـــاف و استخراج می کند و مانند گذشته اجازه استخراج به طور شخصی را نمی دهد. به تازگی وزارت معـــادن و پترولیم اعلام کرد که از این به بعد استخراج معادن بدون مجوز، غیرقانونی و جرم پنداشته می‌شـــود و با متخلفان برخورد قانونی صورت می گیرد. این وزارت گفته اســـت که از این به بعد طی شش ماه آینده تمامی معادن استخراج شده غیرقانونی را ثبت و جواز صادرات و انتقال آن را بر اســـاس رویالیتی شرکت‌ها در ولایـــات مربوطه صـــادر خواهد کـــرد. وزارت معادن هشـــدار داده است که اگر کدام شرکت در این مدت مواد استخراج شـــده غیرقانونی را ثبت نکند، در آنصورت ثبت و انتقال آن غیر قانونی پنداشـــته می‌شود. از این معلوم می شود که امارت اسلامی این سرمایه ملی را به گونه قانونی و معیاری استخراج می کند و از عواید آن برای حمایت از اقتصاد کشور اســـتفاده می کند. با خودکفایی اقتصادی، افغانســـتان به زودی در مدت کوتاهی سفر طولانی توسعه و پیشرفت طی خواهد نمود.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۵٫۸۵؋ | ۶۵٫۹۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۲۸؋ | ۲۲۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰٫۴۳؋ | ۰٫۴۴؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۸٫۹۹؋ | ۷۹٫۰۵؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰٫۸۶؋ | ۰٫۸۶؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۱۸؋ | ۷۱۹؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۹۰٫۹۱؋ | ۹۰٫۹۸؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷٫۵۶؋ | ۱۷٫۵۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷٫۹۳؋ | ۱۷٫۹۴؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹٫۴۷؋ | ۹٫۴۸؋ |

